دمقالی لیکونکی: John Stewart

سرچینی: ګاردیین ۲۰۱۰-۳-۵

ژباړه او لنډیزکونکی: پوهندوی دوکتور سیدحسام (مل)


---

# ایا دا د ژوند معنی دی ؟

Is this the meaning of life ?

جان استیوارت

د خپل احساس اود خپل درک په لرلوسره کوم چی علم یا پوهه د ژوند د دی ورستینو پرمختګونوڅخه دناهیلوکولو اود محروم‌ولو په معنی دی داسی ا ستدلال کوی اووایی چی دانسا ن په حال د خوزند تکاملی تیوری په نظرکی نیولو سره ویلی شو چی انسان دخپل نړی په مستقبل کی اساسی او محوری نقش او رول لوبولی شی .



دنړی په تولوبرخوکی دذکاوت دپرمختګ تحرک دژوند په معنی دی

دنړی لید دپوهی په نظرکی نیولو سره ډیرو اغلباً دا سی ګڼی یا فکرکوی چی په دی بی معنی خاورین نړی کی ژوند تصاد فی ا ویا دا چی ځمونږ د موجودیت په اړین اونسبت سره یو بی تفاوت موضوع دی . دانسا ن دهلی ځلی اصلی اورغنده هدف د کامل طبعی (ناتوریالیستک) واقیعت پوهیدل اود خپل مافوق طبعی باورونوسره دهغه یوځای کول دی. په هرصورت د تکامل دورستی پرمختګونو څخه زمونږ درک او پوهه دلویو انځورونو راڅرګندول او په ډاګه کول دی کوم چی هغه پخپله کولای شی ژوند ته معنی وروبخښی، دغه نوی نړی لید دانسانی لید پر بنیاد د یولوی تکاملی جریان په د ننه کی موقیعت لری او ترسترګو کیږی کوم چی مونږ ته دخپل نقش دلوبولو وړاندیزورکوی. له تکامل څخه دغه نوی درک اوپوهه خپله دتکامل څخه پیژند نه دی، اودا په دی معنی چی تکامل چیری تر یوځا یه په یو خط السیر کی واقع شوی، خصوصاُ اویا په ځانګړی ډول د ځمکی پرمخ او په وړی مقیاس سره د مکرر تاسیساتو یا نهادونو انکشاف اوبیا په تتد ریجی بڼه سره دهغو لویو تعاونی سازمانونو اونهادونو سره دهغه یو ځای کیدنه په لو ی مقیاس سره هغه څه دی چی د هغو درک اوپوهید نه ضروری بریښی . په یوه ساده ژوندی حجره کی پخپله د مالیکولی مکرر جریاناتو انتظام اوبیا د دی ساده (prokaryotic) حجراتو

اجتماع یا تولید نه پخپله یو ډیر پیچلی د پروکاریوتیک حجراتو بل اجماع جوړوی د دی نوی ځوحجروی تشکیل شوی موجوداتو جوړید نه یودبل سره همکا ری ته وړه ورکوی اود یوواحد نوی تشکیل شوی نهاد په څیر خپل دندی تر سره کوی . دلمړنی انسان د تکامل جریان په ورته ډول سره خپل پراونه وهلی دی یعنی دهغه تکاملی سیر له کورنی ګروپی ژوند څخه ،قوم ته، قبیلی ته، بزګری ټولنی ته ،او دښارونو او ولایتونو د جوړونی په لور تر سره شوی دی . دغه خط السیر بی له دی چی د ملیتونو د ژنونو (gens) د تکامل دټاکنی موضوع یادهغوملیتونوفرهنګی چاری اوموضوعات په نظرکی ونیول شی هغه د تعاونی شرکتونو د تیمونو داصلی هدف دلاسته راوړ دپاره د هغویو ځای کید نه دی چی له فردی بیلوالی اوتجرید څخه ګډه هلی ځلی رغنده بریالیتوبونه لری . ګډه کارکول (coorperation) له خپل چاری او خودمنلی (selfishness)کارڅخه غښتلتیا اوبرتری لری.
دژوند پوهنی (بیالوژی) اصلی جریان په ورو او مړژوند سره منی چی دودی یا د تکامل په لور خوزښت دګډی هڅی اوکارپه زیاتوالی پوری نغښتی وی .دا په پوره بنی او شکل سره تر سترګو شوی چی خپل چا ری هڅی اواند د ګډی همکاری په پرتله د شخص زړه ګرمی اوعلاقه د ودی او د تکامل په لوری را پاره وی . لاکن دغه مثله په دوه تیرو لسیزو کی کوم چی دیو لوی اوغښتلی تحقیقاتی مرجع په

همت سره څیړل شوی، دا سی څرګند شوی چی ګډه همکاری پرودی باندی خپل لاس بری په ګوته کړی دی . دغه تحقیقات او څیړنی په لنډ مهاله موده کی ښودلی

چی دغه پیچلی جمعی یا ګډ همکاری دهغوعلاقه لرونکو غړو کوم چی په یوه سازمان کی سره دخپلو ګټو دترلاسه کولو پر بنیاد راټول شوی دی را مینځه ته شوی، او که چیری څوک په ازاده ښه بی له دی چی دنورو سره په ګډه همکاری کی ورګډ شی نو هغه هرومرو د خپل کار په پروسه کی دیولړ ستونزو سره مخامخ شوی اوپوره ضرر موندلی دی . دیادونی وړمطلب خو دادی چی ګډ همکاری دشخصی ګټی اودجمعی ګټی ترمینځ اختلافات کوم چی په هغه کی د تکامل اود ودی مثله مطرح وی له مینځه وړی .

لوستونکی که چیری علاقه لری چی پوه شی، اوهغه دا چی ولی بیالوژی په ورو او تا نی شکل سره دتکامل سیر قبلوی، نوځما هغه مقاله ولولی کوم چی دهغه سرلیک داسی دی : he meaning of life in a developing universe. دغه مقاله په ګاردین کی په انګلیسی متن سره تر لاسه کیدای شی .

او په لمړی سر کی کم تر کمه داسی انګیرنه کیږی چی تکامل په ښه شان سره مستقیماً پخپل خط السیر کی ولویدلی

دی، اودځمکی پرسر به دهغه اصلی اود وروستنی ګذار مثله وی کوم چی هغه به دیو باثبات اود جمعی ګډ همکاری دتولنی مینځ راتګ وی، چی په هغه کی د مختلفو ځانګو مشترک کار اوفعالیت مثله نغښتی وی، او د دی ډول جهانی ټولنی په مینځ راتګ سره ذات البینی اختلافات په شمول دجنګ اود چاپیریال ککړتیا خپل تغر به تول کړی، تیرو تجربو ښودلی دی چی دا ډول ټولنه څنګه مینځ ته راځی .

## ټوله ایزتګ کرښه(universal trejectory) :

د ټوله ایز دتګ کرښی مخی ته تګ د پراخید لوپیما نه د شمسی منظومی په ګډه همکا ری سیستم کی او یا د هغه څخه د باندی کیدای شی چی ولیدل شی، په هغو برخو کی کوم چی ددی تګ کرښی د پراخید و امکان برابرېږی په قوی احتمال سره ممکن دی چی دغه پراخید نه د مشترک اود ګډ پیوند ونو دلاری څخه د ژوند د نورو جریاناتو سره (په اصطلاح د امپراتوری د مانی پرځای) مشترکاً واقع شی ،نو په دی شکل په هر هغه ځای کی چی د ژوند د پیښید لو اود راولاړیدلو امکان میسرېږی، هغه به په دی معنی وی چی دهغه څخه پورته په یو بل ځای کی دژوند د واقع کیدو امکان برابرېږی، سره له دی چی د تکامل اجزا اویا اړین برخی په نورو سیاراتو کی په قوی احتمال سره به متفاوت اوبل ډول وی ،مګر په کلی ډول سره د ټوله ایز تکامل تګ کرښی به یوشان وی . که دتکامل خط السیر یا تګ کرښه په همدی بنی سره دوام ومومی نو په هغه

صورت کی د ګډی همکاری د سازمان مقیاس او اندازه به هم په کلی ډول سره پراخه شی کوم چی مشتمل د ژوند او د هوش (ذکاوت) له روند یا جریاناتو څخه دی اوخپل سرچینی له مختلفو ځایونو څخه تر لاسه کړی، کله چی ذکاوت او مقیاس یا پیمانه لوړ شی نوهغه به په دی لټه کی شی چی د خپل د اطلاعاتو لمن دمادی، انرژی او ځنی نورو شیانو باندی وغوړوی ترڅو چی دهرهغه شی په اړین کوم چی وغواړی خپل معلومات ترلاسه کړی اویا خپل هدف ته ورسیږی پوره توانایی وشی لرلی . هغه کوم ممکنه قدرت دی چی تنظیم شوی ژوند او ذکاوت (هوش) ته داسی لوړ توان ورپه برخه کړی دی؟ د دی پورتنی سوال د ځواب دپاره کوم چی پرابلم سره حل کړی د نګه همغاړی کولو هڅی اواند ته پراختیا ورکونه دی ،دغه معما(ډُوړی) چی ولی قوانین اواساسی سرحدونه ( پارامیترونه ) په عمومی بنی سره د ژوند درازیږید و د مثلی د ملا تړ دپا ره حتی د یو څه بد لونونوسره چی په کهکشان کی کوم چی هلته ژوند موجود دی اولری دی چی تر سترګو شی ژور او سوچه همغاړی کولو هڅی اواند ته ضرورت لیدل کیږی . په پای کی که داسی فرضیه ونیسو چی دژوند دودی اویا د تکامل خط سیر (تګ کربښه) په پوره هوښیاری (هوش) اود لازم پوهی په لرلو سره کهکشان وزیږوی نو هغه به څه وی؟ دا به په کلی توګه سره خپله ذ کاوت وی کوم چی دراتلونکی جنیریشن (نسل) د سوچه همغاړی او څیړنو له مخی د دی نړی د ژوند اود

ذکاوت اود هغو د تکوين اود وسعت پر موضوع باندی رڼا اچوی اودهغه د حل لاری پرانيځی او نوروته دژوند لار خلاصوی . ددی سناريو په نظر کی نيولوسره زمونږ خپل کهکشان(نږی) دتکامل په تګ کرښه(خط السير) په پراخه توګه ځای په ځای شوی دی کوم چی نږی اوژوند ته (په شمول دانسان) دنورولويو جرياناتو په دننه کی چی لرونکی ددندی او ځانګړی هدف دی په ورته احساس سره شکل اوانځور ورکړی چی دهغه له جملی څخه زمونږ دسترګی تکامل دی کوم چی د يو هدف په منظور د هغه تکاملی روند دپروسی سره په کار لويدلی کوم چی مونږ ته دانسان شکل اوانځورورکړی دی ترڅو چی په خاص بصيرت سره د نه ستړی کيدونکی هڅی او اند سره مخ په وړاندی د تکامل د سير سره په مخه لاړ شو . عمدی تکامل (ionIntentional Evolut): په موجوده حالت کی کوم چی انسان په لوړ مقياس سره د يو شمير نورو لويو تکاملی پروسو اوجريانا تو داشتراک اودکړنی له مخی د پيړيو په تيريدو سره دغه تکاملی مرحلی ته رسيدلی دی، نور باقی موجودا ت لا تر اوسه دی پړاو ته نه دی رسيدلی يا داچی دانسان د تکامل له کاروان څخه په واټونو سره بيرته پاتی دی تکامل خپله دانتخاب اود رقابت په د نظر کی نيولو سره دتلو اود حرکت د مسير په امتداد کی لاروهی ، مګر دا ډول

مزل اوتګ اویا داسی رفتار دیو نړیوالی کمزور اوضعیف ټولنی دمینځ ته راتلو یوډیر پڅ پیل دی ، ځکه چی دا ډول ټولنه په نړی کی دنورو مخکی تللی ټولنوسره په مستقیم سیالی اورقابت کی نشی لاره میند لی اویا نشی ورګډ ید لی . نو په دی بڼه له دی نقطی څخه وروسته، تکامل یواځی هغه وخت خپل سیر ته دوام ورکولی شی، کله چی د یومنل شوی مد رن ټولنی دمینځ ته راتللواودهغه د تکاملی جریا ناتو د مخکی وړلو او د په کار اچولو پریکړه په عمدی بڼی سره مخکی د مخکی نیول شوی وی . نو د دی مثلی اود ممکنه امکاناتو په نظرکی نیولو سره، هغه ټولنه کوم چی دتکامل دپروسی په مینځ کی ژوند کوی راویښ او وپوهول شی چی د تکامل د پروسی دوام اودهغه څخه مثبت لاسته راوړنی یواځی اویواځی دعمدی او د پلانیزی شوی کار او فعالیت پوری اړین وی، ترڅو چی دهمدی اصل په نظر کی نیولو سره د تکامل د روند د مخکی بیولو چرخ په حرکت ولیږی. هغه موجودات کوم چی دعمدی تکامل دغه انتقالی دوره په مخ بیایی دا توان به تر لاسه کړی چی ژوند اوذ کاوت ته لاپسی پراختیا ورکړی، هغو چی نه غواړی د تکامل دغه انتقالی پړاو دعمدی کار او فعالیت سره سرته ورسوی پاتی راځی اونه بریالی

کیږی او داځکه چی دتکامل تجربی دا مطلب په ډاګه کړی دی، هغوی چی په دی پروسه کی بیرته پاتی کیږی لکه د چرګی دهګیو په څیر وی چی چرګوړی نه زیږوی، نن بشریت د تکامل د دی بحرانی انتقالی مهم دوری درشل ته ډیر نژدی شوی دی. په درنا وی

.